ليکوال: سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۱۹/۰۳/۰۴

# اتومي جګړه د بشري تمدن پای او د نړیوال اقلیمي ناورین پیل

## په اسیا کې د هند او پاکستان اتومي جګړه به ټوله نړۍ د لوږې او قحطۍ له سترو ناورینونو سره مخامخ کړي

امریکا ته د شمالي کوریا اتومي ګواښونه، د ایران او اسرائیلو اتومي دولتونو ګواښونه، د پاکستان او هندوستان تر منځ د اتومي جګړې پیل به نړیوال بشري تمدن او نړیوال اقلیم ته څه پایلې او اغېزې درلودلي شي. د سړې جګړې پر مهال اتومي جګړه د ځمکې پرمخ د قیامت یوه ورځ ګڼل کېده. یوه اتومي جګړه په ټوله نړۍ کې د پلټونکو، څېړونکو او کارپوهانو لپاره تر ټولو وېره ونکې او هیښونکي لومړۍ نمبر سناریو وه. د نړۍ اتومي چارو کارپوهانو څېړونکو د اتومي جګړې وحشتناکه سناریو تر اخره پورې محاسبه کړې وه. د لویدیځ او ختیځ ویجاړونکی اتومي وسلو ګواښ یو رېښتنی واقعي ګواښ وه. د اتومي وسلو په کارولو سره به ټول بشریت ته د پای ټکی ایښودل شوای وای. د سړې جګړې د پای ته رسیدو او د هیروشیما او ناګاساکي له اتومي برید را ورسته لویدیځې نړۍ تر ډېره بریده د اتومي جګړې وېره له یاده ویستلې ده.

نن ورځ د سړې جګړې په پرتله د هند او پاکستان ترمنځه د اتومي وسلو برید ګواښ ځښت ډېر شوني برېښي. ځکه دواړه اتومي ځواکونه د اتومي تکتیکي وسلو سره یو بل ته مخامخ په مورچو کې پراته دي. وسمهال د هند او پاکستان ترمنځ د یوې محدوې سیمه ییزې اتومي جګړې برید نړۍ ته تر ټولو ستر ګواښونه رامنځ ته کړي دی. همداراز د ایران او شمالي کوریا د اتومي وسلو د برید ګواښ هم محسوس کېږي. د یوې داسې اتومي ډارونکي جګړې اغیزې او پایلې به په څه ډول را ښکاره شي.

د اتومي جګړې څېړونکي او پلټونکي په دې اند دي، چې د اتومي جګړې له پیلدو سره به په ټوله نړۍ کې تر دوه میلیاردو ډیر وګړي ووژل شي یا د لوږې او قحطۍ له ناورینونو سره مخامخ شي. کارپوهان په دې اند دي، د هند او پاکستان د رواني شخړې او ترینګلتیا ته به کتو سره د سړې جګړې په پرتله وسمهال د دې شونتیا ځښته ډېره لیدل کیږي، څو په دواړو هیوادونو کې اتومي وسلې وکارول شي. په نړۍ کې هیڅ بل هیواد او بل ځای نشته لکه هند او پاکستان چې هلته اتومي وسلې په دومره چټکتیا سره وده او پرمختګ کړي وي. په ټوله نړۍ کې په بل هیڅ ځای کې د دې ګواښ نه لیدل کیږي، چې هلته اتومي وسلې په ډېره اساني سره دسختدریځو ترهګرو ډلو لاسونو ته ونه لوېږي.

د هند او پاکستان اتومي دولتونو تر منځ په کشمیر کې ترینګلتیا په ډرامتیکه توګه خپل ورستی پړاو ته رسیدلې ده. د دواړو اتومي دولتونو تر منځ هوایي جګړه او د ټوپونو ډزې ترسره شوي دي. وسمهال د همدې جګړې له امله د لاین افکنټرول سره کرښه ماته شوي ده .کشمیر له ډېرې اوږدې مودې راهیسې د نړۍ تر ټولو یوه ګواښمنه سیمه ګڼل کیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

هندو ستان د ۱۹۷۴ او پاکستان د ۱۹۹۸ کلونو راهیسي اټومي وسلي لري. پوښتنه دا ده، چي وسمهال د هند او پاکستان ترمنځ د اټومي جګړي ګواښ څومره شتون لري. که څه هم دوی یو بل ته د پخوا نه د اټومي جګړي د خطر زنګونه وهلي دي. پاکستان به خامخا هغمهال خپلي اټومي وسله وکاروي، کله چي دوی د هند پیاوړي وسله وال پوځ پرمختګ په خپله خاوره کي ونشي درولی. هندوستان به خامخا هغمهال خپله اټومي وسله وکاروي، کله چي پر هند د اټومي وسلي برید وشي. د دې سره سره د پاکستان دفاع وزیرانو څو څو واري خبرداری ورکړی، که هیواد یې له هند سره د جګړي حالت ته ورنیږدې شي، دوی اټومي وسله کاروي. پاکستاني پوځي چارواکو دا هم ویلي دي، چي د دوی د اټومي وسلو پروګرام د هند لپاره ځانګړي جوړي شوي دی. دوی به د هند پیاوړي وسله وال ځواک د غیر اټومي برید یا دودیزه جګړې په وړاندې هم خپلي اټومي وسلي وکاروي. ورسره هند هم مجبوریږي، څو خپله اټومي وسله د ځان دفاع لپاره وکاروي.

په واشنګټن کي د ستراتیجي جوړولو مرکز (CSIS) Center for Strategie and International studies د شمېرو او پلټنو په بنسټ هند نهه ډول دول فعال او چمتو د توغندیو سیستمونه لري.

له دې جملي څخه د توغندیو یو سیستم د Typ Agen /3 نومیږي. دا سیستم تر ۵۰۰ کیلومترو پوري واټن ویشتلي شي. پاکستاني توغندي د چینایانو په مرسته جوړ شوي دي. د دوی توغندي د هند په خاوره کي هره سیمه په نښه کولی شي. هند او پا کستان د لنډ واټن ویشتونکي اټومي سرخولي لیږدونکي توغندي هم لري. د ۵۰ څخه تر ۱۰۰ کیلومترو واټن ویشتلي شي .د سویډن ستهکولم په ښار کي میشت د سولي او پلټني انیستیتیوت د څېړنو او راپورونو پر بنسټ Stockholmer internationals Friedensforschungsinstitut ( SIPRI ) د هند او پاکستان اټومي وسلي په خپلو تجهزاتو کي غورځونکي اټومي بمونه هم لري. د پاکستان ټول اټومي سرخولي لیږدونکي توغندیو شمېر د۱۴۰ څخه تر ۱۵۰ او د هند د ۱۳۰ څخه تر ۱۴۰ ډېر توغندې لري. د پاکستان سرخولي لیږدونکي توغندي کولاي شي تر ۴۰ کیلو مترو واټن پوري اټومي وسلي ولیږدوي.

داسي یوه اټومي جګړه به سیمي او نړۍ ته خورا ناوړه ګواښمني اغېزې او پایلي ولري. نوې څېړني او پایلي ښیي، چي د اټومي جګړو اغېزو ته ډېره لږ پاملرنه او ارزښت ورکول کیږي. په دې هکله د نړیوال ډاکټرانو ټولني یوه څېړنه ترسره کړي ده. International Physician for the Prevention of Nuclear War

دوی وایي: که د هند او پاکستان ترمنځ اټومي جګړه پیل شي، دا شنوني ده، چي د اټومي .جګړي اغېزې به تر دوه میلیارده وګړي د خوارځواکی، لوږي، قحطۍ او فقر له ګواښونو سره مخامخ کړي. څېړنواله امریکایي ډاکټره ( ایرینا هیلفند) وایي: موږ باید دغه سیمه کي د چین هیواد د خوراک او خوراکي توکو حالت ته هم پام وکړو. دا متخصصین کارپوهان په دې اند دي، چي د اټومي جګړي ورسته د چین په هیواد د وریجو په حاصلاتو کي ځلرویشت سلنه کمښت رامنځ ته کیداې شي. د جوارو په حاصلاتو کي هم ځلرویشت سلنه او د غنمو په حاصلاتو کي تر پنځوس سلني پوري کمښت را منځ ته کیداې شي. له دې سره به د چین په هیواد کي تر یو میلیاردو انسانانو پوري یعني درې برخې وګړي به د خوارځواکی، قحطۍ او فقر کندې ته وروغورزول شي. دا پوهنیزه څېړنه د امریکا د نیو جرسي په پوهنتون کي دې پوهانو په ګډه تر سره کړي ده.

Lili Xia , Alan Robock, Michael, Mills, Stenke, and Ira Helfand Department of Environmental Scinces, Rutgars Universität New Brunswick, New Jersey USA Global Famine after a Regional Nuclear War


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د امریکي متحده ایالاتو په څلورو پوهنتونو کې څېړونکو او ساینسي کارپوهانو د یوې نوې اقلیمي ماډل محاسبې له مخې: وایي، کله چې ستر ښارونه د یوې محدودې اتومي جګړې د برید له امله سوځي. هوا د کیمیاوي راډیو اکتیفي توکو باندې ککړیږي او د ککړې هوا له امله چاپیریال ته ډول ډول زیانونه اړولي شي.

په ۲۰۰۶ کال کې د سیمي په اړه لومړنی پارونکي او حیرانونکي څېړنه د اتومي جګړې د اغیزو او پایلو په اړه امریکایي پلټونکو ساینس پوهانو څېړه کړې ده. (Owem Toom and Alan Roboeke)

د د دوی سناریو په ډېرو پوهنیزو پلټنو او څېړنو کې د اخیځلیک په توګه کارول شوې ده. دا متخصصین په دې اند دي، کله چې د هند او پاکستان ترمنځ جګړه ونښلي، دواړه هیوادونه به په ټولیزه توګه سل اتومي بمونه وکاروي یا وغورځوي. د هر یوه هیواد چاودیدونکو اتومي بمونو ځواک به تر پینځلسو کیلو ټنه TNTپوري وي

د دې اتومي بمونو ځواک به په پرتلېزه توګه د سلو هیروشیما اتومي بم ځواک په څېر وي. په یوه برید کې به میلیونه انسانان ووژل شي. که څه هم دواړو هیوادنو به خپلې نیمایي اتومي وسلې نه وي کارولې. د محاسبو پر بنسټ د اتومي جګړې له امله د سوځیدلي ښارونو څخه به په میلیونونه ټنه تور پوډري ډوله لوګي، د سوځیدلي توکو لوګي، ګرد، دوړې او غبار به د اسمان اتموسفیر Stratosefere ته پورته شي .

لومړي به پر سیمه په بېساري توګه یوه تودوخه وچلیږي، ورسره به په پراخه پیمانه د اور لمبې جګې شي ګرد، دوړې، چټل، ناپاک او ناوالي کیمیاوی توکې به په هوا کې خپاره شي. ورسته به د لمر په واسطه دا تیاره تور رنګه ذرات تاوده شي او تر شپیتو کیلو مترو پوري پوري به اسمان ته وخیږي. دا تور رنګه اتومي ذرات به پر ټوله نړۍ خپاره شی یا وورېږي. له دې سره به د لمر رڼا ډیره تیاره شي او ځمکه به ځښته ډیره سړه شي. په هوا کې د دې تور رنګو پوډري رنګه کیمیاوي ذراتو مقدار به تر دولسو میلیونو ټنو پوري وي. تر ډیرو کلونو پوري به زموږ نړۍ سخته سړه یا یخه وي.

که پینځه میلیونه ټنه تور رنګه کیمیاوي ذرات فضا ته وشړل شي، په اوسط ډول د اتومي جګړې څخه ورسته به په دریو کلونو کې د یوې درجې نه تر یوې نیمې درجې پوري هوا نوره سړه شي. له دې سره به دکرنیزو حاصلاتو کمښت رامنځ ته شي او لوږه او قحطی به خپره شي.

دا نوي علمي څېړني، پخوانې پلټنې او موندنې د اکتوبر په میاشت کې د سویس هیواد ایډګنوسیشه تخنیکي پوهنتون کې د میرمن ( اندریا شتنګه ) د ماهرو کارپوهانو د ټیم له خوا تائید شوي دي.

Eidgenössische Technische Hochschule Zürich (ETH )

د کارپوهانو او متخصصینو ډله په خپلو پلټنو او څېړنو کې دا هم تائیدوي، چې یوه سیمه ییزه اتومي جګړه به په فضا کې د اوزون طبقې ته جدي او شدید زیانونه اړولي شي او په لسو کلونو کې به د نړیواله تودوخه، سوړوالي او د وریځو په حالاتو کې ناوړه بدلونونه رامنځ ته شي.

د اتومي جګړې اغېزې او پایلې په ټوله نړۍ کې د خوراکي توکو پر سوداګرۍ ویجاړونکي اغېز ولري. نن ورځ د خوراکي توکو سیستم د یو بل سره ټینګ تړل شوي دی. ورسره به په سیستماتیک ډول ټولې نړۍ ته سخت ټکانونه ورکړل شي او د چاپیریال ستري ستونزې به رامنځ ته کړي.

د جرمني د بن ښار کې د ملګرو ملتونو په یوه پوهنتون کې ښاغلی کوکو ویرنر د چاپیریال ساتني او اقلیمي بدلون په دیپارټمنټ کې څېړني تر سره کوي، هغه وایي : په امریکا کې یوازې دوه اوونی په پرلپسي توګه تودوخه د خوراکي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

توکو په بیو باندې په بیساري ډول اغېز کوي. ښايي په بل ځای کې د لوږې په اړه نارامی رامنځ ته شي. په ځانګړي ډول په هغه سیمو کې چې هغې هم د خوراکي توکو کمښت شتون لري.

په سویلي اسیا کې به ډیری خلک د اټومي جګړې د اغېزو او پایلو له امله مړه شي. د همبورګ ښار په پوهنتون کې د اقلیمي بدلون څېړنوال ښاغلی یواخیم ماروغڅکه وایي: د یوې اټومي جګړې غیر مستقیمي پایلې به له پلان شویو چاودنو، اورلګیدنو او د واړنګو د مستقیمو اغېزو څخه لا نوره جدي وي.

د بېلګې په ډول د یوه ناورین یادونه، کله چې په ۱۸۱۵ کې به هندونیزیا کې د تمبورا په نامه توپان پیل شو. یوه لویه کچه خاورې ایرې او تور رنګه ذرات د هوا اتموسفیر ته ورپو کړل شول، د یورویشیا او د شمالي امریکې د تودوخې درجه په ښکاره توګه راښکته شوه، ورسره درست کال پرته له اوړي تیر شو او سړې هوا او کنګل ټول فصلونه لمنځه یوړل او په ډیرو هیوادو کې لوږه او قحطی رامنځته شوه. د دې سړې هوا اغېز یوازې په همغاغه کال کې محسوس شوې، خو د یوه سیمه ییزې اټومي جګړې اغېز د دې پلټنو پر بنسټ تر لسو کلونو پورې اوږد شي. د سلو اټومي وسلو کارول چې د چاودنې ځواک یې تر پینځلسو کیلو ټنه وي، د هغې ایرې او تور رنګه پوډري ذراتو اغېز به ټوله نړۍ ککړه کړي او د ټول بشریت پر تاریخ به سیوره وغوځوي. که څه هم د هیروشیما اټومي بم په اندازه سل اټومي بمونه نشي کولی د یو اټومي ژمي لامل وګرځي، خو اقلیم ته او اوزون طبقې ته په کافي اندازه ویجاړونکي زیانونه رسولی شي.

پوښتنه دا ده چې د ښاغلی تووم او مېرمن روبیکه د سل اټومي بمونوسناریو کې څومره کسان وژل کیداي شي. دا کاپوهان وایي:.دا شونی ده چې د هند او پاکستان د اټومي جګړه برید کې تر شلو میلیونه انسانان ووژل شي. د دې کارپوهانو د محاسبو پر بنسټ پاکستان ۵۲ او هند ۸۵ اټومي وسلې په خپل اختیار کې لري. د دوی د اټومي بمونو د چاودیدنې ځواک خورا لږ دی، ځکه دوی په خپله اټومي ټیکنالوجی کې د ځانګړې وړتیا څښتنان نه دي لا تر اوسه دومره ښه هستوي ټیکنالوجی څخه کار اخیستلي دی. د دې اټومي وسلو د چاودنو ځواک د شلو کیلو ټنو ) ټي ان ټي) څخه نشي ډیریدلي. پر دې بنسټ که اټومي ځواک هند او پاکستان پر یو بل د اټومي وسلو برید وکړي، په دوی کې به د دویمې نړیوالې جګړې په پرتله نیمایي خلک ووژل شي.

د ډیرو اټومي وسلو جوړولو په اړه د پاکستان رسمي دریځ داسې دی: دوی هڅه کوي، څو د ډیر وړو تکتیکي اټومي بمونه جوړولو له لارې په خپله خاوره کې د هند د زغروالو ځواک قطعاتو یا جزوتامونو پرمختګ مخه ونیسي.

د پاکستان د همدې اټومي تکتیکي پلان په وړاندې هند بیا د Gold Start Plan یا د سړو زړو پیل پلان لري.

د هند د خپل پوځي دوکتورینو یا پلان له مخې هڅه کوي، څو د جګړې پر مهال خپل زغروال ټانکونه او شوبلې په ډیره چټکی سره د پاکستان خاورې ته ور دننه کړي. څو د پاکستان د تکتیکي اټومي وسلو څخه ځان وژغوري او یا د لږو تلفاتو په ورکولو سره د پاکستان به خاوره کې خپل پر مختګ ته دوام ورکړي. د پاکستان د وړو تکتیکي اټومي بمونو ستراتیجي دومره موثره نه بریښي، یو پینځلس کیلو ټنه اټومي بم کولی شي، د لسو څخه تر پینځلسو زغروال وسایط یا ټانکونه له منځه یوسي. پاکستان د هند د زغروال پوځ مقابلې لپاره ډیرو وړو تکتیکي اټومي بمونو ته اړتیا لري. په داسې حال کې چې پاکستان له ډیرې مودې راهیسې پوروړی هیواد دی، د اقتصادي بحران سره مخامخ دی.

نړیوالې ټولنې مجبوره ده ، څو د پاکستان سره مالي مرستې وکړي، که پاکستان د سومالیا یا کانګو هیوادو په څیر یو هیواد وای، هیڅ څوک به ورسره دلچسپي ونه لري. پاکستانی اشتبلیشمنټ پر نړیوالې ټولنې خپلې اټومي وسلې د یو تهدید یا باج اخیستلو په څېر کاروي. دوی پوهیږي، چې د اټومي وسلو په درلودلو سره د امریکا متحده ایالات، اروپایي ټولنه او جاپان نشي کولي او نه غواړي چې په اټومي وسلو سمبال پاکستان لا نوره بې ثباته او له سقوط سره مخامخ شي. پاکستانی اشتملیشمنټ د نړیوالې ټولنې په همدې وېره او اندېښنه پوهیږي او دا وېره د یوې تهدیدې یا باج اخیستلو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

وسيلې په توګه يا د يوه چاودېدونکي ګواښ په توګه کاروي، پاکستان له دې لارې نړيواله ټولنه اقتصادي همکارۍ ته مجبوره وي.

پاکستان خپلې اتومي وسلې د هند په پوله ځاي پرځای کړي دي .پاکستان د خپل جنګي تکتيک له لارې غواړي خپلې اتومي وسلې ,,د نصر لنډ واټن توغندي,,د هند په پوله ځاي پر ځاي کړي. څو د هند پياوړي او زورو وسله وال پوځ پرې وبيروي او د بريد پر مهال په پوله کې تم کړي، پاکستان د همدې تکتيکي موخې لپاره خپل د نصر د توغنديو سيستم ته پراختيا ورکړي ده. خو کارپوهان خبرداری ورکوي، پاکستان د خپل نصر وړو تکتيکي اتومي بمونو سره خپل هيواد د تباهي او بربادئ سره مخامخ کړي دی. پاکستان به د هند زغروال پوځ باندې په خپله خاوره کې اتومي بريد کوي. پاکستان د خپلو وړو اتومي بمونو خوب سره دا پلان لري، څو د هند پياوړي وسله وال بريد د همدې وړو کتيکي اتومي بمونو له لارې په خپله خاوره کې ودروي.

که پاکستان د خپلو جنګي الوتکو له لارې اتومي وسله هند ته د بريد لپاره ورولېږدوي. هند به د خپل مډرن رادار سيستم له لارې د پاکستان اتومي بريد د هوا په هر حالت کې تثبيت کړي او ډير ژر به خپل متقابل غبرګون وښيي .

د هند نوی رادارسيستم يا سټلايت مدار يا دايروي اغېز ۸۷۰ کيلومتر دی. Radar Imagging Satellit)

پاکستان تر اوسه په ډاډمنه او رسمي توګه هيڅ داسي نه دي ويلي: چې دوی به لومړي د اتومي وسلو بريد نه کوي. دا شونې ده، چې پاکستان به د هند هر ډول دوديزه پوځي بريد ته په اتومي وسلو ځواب ورکوي. له همدې امله پاکستاني پوځيان وايي، زموږ ځواب به حيرانونکي وي.

د پاکستان ۲۲ سلنه وګړي همدا اوس د قحطی او خوارځواکي له ګواښ سره مخامخ دي .پاکستان د ۱۱۸ مخ پر ودې هيوادنو په قطار کې ۱۰۷ نمبر کې ځای لري. پاکستان د انرجئ او بريښنا له کمښت سره مخامخ دی او هره ورځ په پاکستان کې بريښنا بنده وي .

د پاکستان اتومي وسلې نه يوازې په اسانۍ سره د سختدرځو ترهګرو لاس ته لويدلې شي، بلکې په پاکستان کې د عبدالقدير خان په نامه يو د اتومي وسلو يو سوپرمارکيټ شته، خان اتومي وسلې تخنيک او تجهزات نه يوازې پر شمالي کوريا بلکې پر ايران، ليبيا پلورلي دي او ښايي اوس پر سعودي عربستان هم وپلوري. خان کلونه کلونه د اتومي وسلو تخنيک او تجهزات د نړيوال اتومي بنديزونو او د نړيوالو قوانينو تړونو خلاف پر شمالی کوريا اتومي تخنيک او پوهه پلورلې ده، خان ته تر اوسه هيڅ چا سزا ته ده ور کړې.

پاکستان او هند تر اوسه د اتومي هيوادونو د ټولنې د اتومي وسلو د نه خپرولو تړون نه دی لاسليک کړي .
دا ټولنه يوازې امريکا، برتانيه، فرانسه او چين د اتومي هيوادونو په څېر په رسميت (Nonprolifration Treaty NPT) پيژني.

لنډيز او وړانديز:

د هند او پاکستان د اتومي کړکيچ ته په کتو سره، که د قيامت ورځ په نيمه شپه کې پيل کيږي، بيا نيمي شپې ته د پخوا په پرتله اوس ډير لږ وخت پاتې دی. د هند او پاکستان ترمنځ د انګريزي کولونياليزم ميراث زړه ترينګلتيا دومره مهمه خبره نه ده، لکه په سيمه کې د پاکستان دومره ډيرې تکتيکي اتومي وسلې يو ريښتنی ستر ګواښ دی. افغانستان د هند او پاکستان ورسته دريم هيواد دی، چې له دې اتومي جګړې به زيانمن کيږي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولئ

پاکستان يو ناکامه دولت دی، پاکستان يو پوروړی، سياسي بې ثباته، د سقوط او تجزيي سره مخامخ هيواد دي، کيدای شي د دوی د دوی اټومي وسلې په ډيره اسانه سره د ترهګرو يا غلطو لاسونو ته ولويږي او يا دا واړې اټومي وسلې په پاکستان کې غلا شي. مخکې له دې چې پاکستان تجزيه شي او يا د هند سره اټومي جګړه پيل کړي او له دې امله په سيمه کې يوه اټومي فاجعه رامنځ ته شي او په دې بشري فاجعې کې به تر دوه ميلياردو انسانان ووژل شي. له دې امله د افغانانو د اټوم ضد غورځنګ د ملګرو ملتونو د اټومي انرجی نړيوال سازمان له پلټونکو او د نړيوالې اټومي څار ټولنې څخه په جدي توګه غوښتنه کوي، څو د پاکستان څخه اټومي وسلې د سياسي اقتصادي فشار او خبرو اترو له لارې راټولې کړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ